


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



انجينر محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نېټه : 05 جنوری 2015 م

# مور به ناز راکوو

ما به ژړلی مور به ناز راکوو
یا می خندلی مور به ناز راکوو

پام به می نه کاوو غوښتنی ته یی
نه می ویلی مور به ناز راکوو

چی مرور وم دا به څنګ ته راغله
نه می کتلی مور به ناز راکوو

زه به ناروغ وم دی به خوب نه کوو
اوښکی یی تللی مور به ناز راکوو

ما به همیش په مور نازونه کوول
زما خدای ببښلی مور به ناز راکوو

***

انجينر محب الرحمن « خطيبي »
5/01/2015

www.said-afghani.org بازګشت به صفحه اصلی